آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۲۴

# لاروركي لارويان

## پنځمه برخه

### د خپل مرګ ننداره:

د دغې ورځې په سبا مې سهار وختې د پلار د كور په نيت حركت كاوه چې ميرمن مې غږ را پسې وكړ:
د سترخوان له ځان سره واخله كه كومه نانوايي كې ډوډۍ پيداكړې. د سترخوان مې له ځان سره واخيست، په دريمه كارته كې مې له پيسو سره په يوه نانوايي كې په نوبت كې كېنود او خپله د بايسكيل په سورلۍ د دهمرادخان په لوري وخوځېدم. له رسيدوسره سم مې وليدل چې له مور نه مې نيولي، بيا تر واړه ماشوم پورې ټول په حويلۍ كې كوم لوري ته د حركت په نيت ولاړ دي.
ما وپوښتل: چيرې؟
څه خبره ده؟
كوم يوه په خواشينۍ سره ځواب راكړ:
بېګاه شپه د ګلبدين توپكيانو كاغذونه خپاره كړي دي چې بيا سبا ته دهمرادخان او ورځيرمه شوروي سفارت تر راكټي بريد لاندې راځي، خلک دې كلى پرېږدي.
د حزب اسلامي هيڅ يو راكټ د روسانو پر سفارت و نه لګيد، او ګلبدين جان؟ په دې ډول زموږ كليوال د روسانو د شنو سترګو نذرانه كول.
ما ټولو ته خپل كور ته د تللو بلنه وركړه. دوی ټولو خپل هست و بود پر ما وسپارل. ما هم ټول شيان چې نغدې پيسې اوګاڼې هم په كې وې، د بايسكل پركنجوغه شخ وترل او د دهبوري په لوري مې حركت وكړ، دوی ته مې و ويل چې په ما پسې راځئ.
جګړه ځكه چې جګړه ماروغوښته، هغسې توده وه، په ټول كلي او ټول ښار باندې د مرګ توره ويره خپره وه. په همدې اړودوړ كې پر بايسكل سپور، د كارتې سې د شورا سرک ته ورسيدم، چې د ستر او پاک شيخ؟ آصف جان؟ محسني د وحشيانو پر پوستې ور برابر شوم. يو اوربوز ترلې كلاشينكوف په لاس د دريدو او كوزيدو امر را ته وكړ، كوز شوم.
- كجا ميرې؟
- خانه.
- قوم توچيیه؟
- تاجيک.
- نا، تو جاسوس ګلبديني.
- داخل حويلي برو، بايسكله ده اي بغل ايستاده كو، پيش برو.
- او بيادر چې كپس، خيريت خو اس.
- پشت خيريت ميريت نګرد، پيش برو...
په پوړۍ وهلو، پوړۍ وهلو يې يوې زير زمينې ته ښكته كړم. په زير زمينې كې څو تنه نور هم ناست وو. ما د خپلې وارخطايۍ اوساده ګۍ له مخې فكر وكړ چې دا د دې توپكيانو ملګري دي، نو ما په ډيرې عاجزۍ ناستو كسانو ته و ويل:
ګورئ، دې ملګرو ته مو و واياست چې زه معلم يم، له هيڅ تنظيم او ډلې سره تړاو نه لرم او...
ټولو په خواشينۍ سره په شونډو كې زهرجنه خندا وكړه او يوه تن په ډيره آرامه لهجه را ته و ويل:
كينه، اوس پوهيږې.
څو شيبې وروسته پوه شوم چې هغوی هم اسيران وو.
په كومه زيرزمينۍ كې يې چې موږ اسيران كړي وو، د مځكې په سطح كې يې وړې، وړې كړكۍ درلودې. له دې كړكۍ څخه ما ليدل چې زما بكس يې زما د بايسكل له كنجوغي څخه خلاص كړ. ځكه چې پوه شول چې په بكس كې پيسې دي؛ نو سمدلاسه يې بكس، په اغلب ګمان، دويم پوړته پورته كړ، په ما پسې راغلل، له نورو اسيرانو څخه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليږلو مخكې په ځير و لولــئ

یې جلا کړم او د همدې ودانۍ د پیاده خانو د ځان مینځلو په یو تشناب کې یې بندي کړم. تشناب د قد په اندازه داسې یوه وړه کړکۍ درلوده، چې یو انسان په سختۍ ور نه وتلی شو. د کړکۍ په تاخچه کې دولتي ډوله دوسیې او پاڼې ایښې وې، د ځینو پاڼو په لوستلو پوه شوم چې دا تعمیر د تقاعد د ریاست کومه څانګه ده.
زه یې په هماغه ماښام د مرګ استازوو ته سپارلم؛ او **«قسم دی یاره بې نیتي نه شته مرګونه»** زه یې د همدې ورځې په ماښام «قلعهٔ شاده» ته لیږلم، هلته کومه ځاه وه چې ژوندي انسانان یې په کې اچول.
ما په کړکۍ د ایښودل شوو دوسیو له څنګونو نه کتل چې څو تنه د ودانۍ له پاس منزل نه را کوز شول. زما په ګمان، دوی زما د بکس ټول شیان په خپلو منځو کې سره ویشلي وو. را کوز شوي شخص خپله برخه په یو ګل سیب دستمال کې تړلې وه، له ورایه ښکاریدې چې د پیسو بنډلونه دي. دوی په خبرو، خبرو زما د بندیخانې کړکۍ ته را ورسیدل.
هغه چې خپله برخه تر لاسه کړې وه، په داسې حال کې چې د رضایت خندا یې پرژونډو خوره وه، پوښتنه وکړه:
«نفر کجاس؟»
د ډلې یو تن د غلي کیدو اشاره ورته وکړه. تشناب یې ور وښود چې سرې دلته دی. هغه په ډیر غرور و ویل:
«ده قصیش نه شو، که امي تاریکي شد روانش کو، دګه توبیغم باش.»
حویلۍ له ټوپکمارو نه ډکه وه، لکه د ګور چینجي، ښکته و پورته کیدل. زه یې د باندې لیدلوته نه پریښودم. یو وار د یوه را باندې پام شو چې زه د باندې ګورم، ښه بد رد یې را ډالۍ کړل او وې ګواښلم چې که بیا دې د باندې د کتلو تکل وکړ؛ نو دا شاجو ربه دې په ککره کې در تش کړم. له دې سره، سره ما په تاخچه کې د ایښودل شویو دوسیو او کاغذونو له څنګونو د باندې کتل.
حویلۍ له داسې ټوپکیانو ډکه وه چې ځیرې یې کاملاً نا آشنا غوندې وې، د دې ښار له خلکو سره چې موږ په کې ژوند کړی و، جوت توپیر درلود. دوی کابلیانو ته نه پاتې کیدل، کره وره یې هم د دې ښار خلکو ته ورته نه وو. د دې کلي کور او ښار له خلکو سره یې لوی توپیر درلود، نه پوهیږم دوی یې له کومه راوستي وو. تقریباً ټول ځوانان وو، زوړ بنده نه په کې لیدل کیده.
زه پوهیدم چې ما وژني، د دوی په منځ کې زما د مشرزوی غمي جان په عمر یو ماشوم هم ښکته پورته کیده، په ډیرې نا امیدۍ مې ورته کتل او په زړه کې مې تیریدل چې زه به مې بیا بچیان وګورم او که نه؟
په حویلۍ کې دیګې بار شول، پاخه یې کړل، ډوډۍ وخوړل شوه. ټوپکیان ورو، ورو په کمیدو شول، حویلۍ تشه شوه، ته وا هیڅوک دلته راغلي هم نه وو. دا چې چیرې تلل؛ په دې یوازې خدای او آصف جان؟ محسني پوهیدل، ځکه د هغه تر امرلاندې ټوپکیان وو، یوازې پیره دار پاتې شو چې په عمومي دروازه کې ټوپک په لاس ناست و.
خدای پوهیږي چې په کومو چُرتونو کې ډوب و، حویلۍ ته یې هیڅ پام نه و. په کړکۍ کې پراته کاغذونه او دوسیې مې په ډیر احتیاط ښکته کړل، د کړکۍ شیشه مې هم په ډیر احتیاط ویسته. غلی را و وتم. لومړی مې هڅه وکړه چې د حویلۍ شا ته چې کوم کور دی، هغه ته ور واوړم، خپل حال ورته تیرکړم، ګوندې یا پناه راکړي او یا د تیښتې لار را وښيي؛ خو له دیواله مې چې سر ورښکاره کړ، که ګورم هغه حویلۍ هم له هزاره ګانو ډکه وه. دا د «شورای ملیت برادرهزاره» مقر و. د حویلۍ د بل اړخ په دیوال واوښتم. پښې مې لوځې وې، له وارخطا ورځې مې خپلې څپلۍ هیرې شوې وې. تیښتې ته جوړ او د کارتې سې په سرکونو کې ښه بلد وم. نو همدلته و چې لکه د چا خبره «دوې مې درلودې، دوې نورې مې پورکړې» او هه. د پیره دار چې را باندې پام شو، چغې یې کړې:
«نمان، نمان که میګریزه.»
ډزې را پسې پیل شوې؛ خو ما د مرګ له ویرې داسې منډې وهلې، د چا خبره لکه باد. ځان مې د شوروي سفارت سیمې ته ورساوه، چې د خلکو ګڼه ګونه او تګ راتګ په کې ډیرو. اول مې د پلار کره لاړم، که ګورم ادي مې په سرو سترګو ناسته وه، زما په لیدلو یې نورې چیغې هم وکړې او را ته وې ویل:
«بچیه! ژر دې کور ته لاړشه، چې ماشومان به دې بده ورځ لري.»
کور ته د تګ په مهال مې له ډاره داسې انګیرله چې دا ټوپکیان مې همدا اوس دروي او مخامخ مې په مرمۍ ولي.
کور ته چې ورسیدم، میرمن مې لا وختي په ژړا او انګولا سترګې سرې کړې او ویښتان شکولي وو.
واټونه او لارې له ډیرو لرو او نږدې هیوادونو څخه افغانستان ته راغځیدلي دي. په نورو هیوادونو کې پر دغو واټونو او لارو باندې باران وریږي؛ خو چې څنګه زموږ د هیواد افغانستان سیمه پیل شي؛ نو د اوبو او باران پر ځای وینې وریږي، دا واټ او دا لارې د وینو په واټ او د وینو په لارو بدلیږي. او دا خپله افغانان دي چې د وینو واټ او د وینو لارې یې جوړې کړې دي. لا تر اوسه هم اکثریت سیاسي ګوندونه او اشخاص، له ژبني، مذهبي، نظامي، فرهنګي او سیاسي پلوه د بهرنیانو په ټالونو کې زانګي، د هغوی د لاس آله ګرځیدلي، د خلکو په ژوند لوبې کوي او د خلکو په وینو اودس تازه کوي. بهرنیان یې هم د خپلو ګټو او فرهنګي، مذهبي نفوذ او لوړتیا په خاطر داسې لوبوي لکه نانځکې.
ټوپکیانو کابل ته په ننوتلو سره، پر هره لار، پر هره کوڅه او پر هر واټ چې قدم ایښی دی، له هغو نه د وینو واټ جوړشوی دی. او ترنن پورې د افغانستان مظلوم خلک د وینو پر دغو واټونو باندې د مجبوریت قدم ږدي. ډیرې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ککرۍ خاورې شوې، ښځې کونډې، میندې بورې او ماشومان یتیمان شول؛ خو ځینې چې خدای خلاص کړل، د لار ورکو لارویانو په څېر، د وینو پر همدې واټونو باندې مزلونه وهلي؛ تر څو د ټوپکیانو د بل کړي اور له سوځنده لمبو څخه ځانونه خلاص کړي. له بده مرغه د وینو د واټ پرانستونکي اوس هم د پردي قانون او دیموکراسی د تورې لمنې په سیورې کې، پر خپل نیلي سپاره دي او دربنده یې زغلوي. په خپلو شومو، ناولو کارونو باندې، نه یوازې نه شرمیږي، بلکې ویاړهم وربانديې کوي. «لار ورکي لارویان» چې اکثراً په نا آشنا لارو سر وي، په ژړا، ژړا کې تر شونډو لاندې وایي:

**«به دکان بخت مردم، کې نشسته است یا رب**
**گـل خنده میستانـد، غـم جنـګ مـیفروشـد»**

د ټوپکیانو چې هر څه له لاسه وشول، ویې کړل. دوی د خلکو په سر و مال او ناموس هم صرفه و نه کړه. ناهید چې له ځان نه یې د افغانستان د هرې پاکې پیغلې د پیکې ګل جوړ کړ، د افغاني ننګ او غیرت بوټی یې په خپلو وینو خړوب کړ او په تاریخ کې یې نه یوازې د افغانانو له پاره، بلکې د ټول بشریت له پاره نه هیریدونکی درس پرینود؛ د خپل پت او عزت د ساتلو په خاطر د شورای نظار د وحشي لیوانو له حملې نه وتښتیده، ځان یې له څلورم پوړ نه لاندې وغورځاوه، له بې عفتۍ نه یې مرګ ښه وګاڼه، مرګ ابدي آرامتیا و رپه برخه کړه، او که هغوی ته په لاس ورغلې وای، ابدي نارامتیا...
او د لیوانو سر لاري نن د افغانستان په بیوزلو خلکو باندې د قهرمان؟ په نامه تپل شوی دی. د کابل ښار دیوالونه ژاړي او چغې وهي، ځکه چې د وحشي لیوانو د مشرانو د عکسونو د دروندوالي بار نور نه شي وړلای او نه یې شي زغملای، د کابل مځکه غږ نه شي ایستلای چې په کوکو، کوکو وژاړي او خدای ته عرض وکړي چې د ناولو ټوپکیانو قدمونه به تر څو پورې پر ما باروي.
بد بختي خولا پخوا پیل شوې وه، خو اصلي پړاو یې د ټوپکیانو په راتګ سره پیل شو. ما ته د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د استاد عطاالله رؤف خبره را یاده شوه چې یوه ورځ یې د ښوونې او روزنې پوهنځي په ریاست کې د استادانو په مخ کې وکړه.
د ډاکترنجیب په حکومت کې څه بدلونونه راغلي وو، دغه راز د افقانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د وطن په نامه ونومول شو. په همدې باندې تود بحث روان و، کوم استاد غږ وکړ:
اوس نو غول ترې جوړشول.
استاد عطاالله رؤف ورغبرګه کړه:
«غول خو پخوا وو، یو بل څه وواېه.»
د ټوپکیانو په راتګ سره عین قصه وشوه چې مرداری خو پخوا و، اوس څه ور ته وایئ.
هر څه ورک در ورک وو، کتاب ورک، استاد ورک، شاګرد ورک، او...
صنف په زندان بدل شو او قلم په ټوپک.
وحدتي ټوپکیانو د ادبیاتو پوهنځي د روسي ځانګي لابراتوارنه زندان جوړکړ. جګړه ورځ تر بلې تودیده. له پوهنتون نه استاد او شاګرد کده کړې وه، په ځای یې ښاغلي؟ ټوپکیان ښکته پورته کیدل. ټوپکیانو د خپلو نیکونو عملونه تکرارول. د دوی په قلمرو کې د ترحم کلمه چا نه پیژانده، کاروله یې هم نه. که به چا د عذر او زاریو له لارې د شفقت او ترحم غوښتنه کوله، ټوپکیانو به ټولو ور پورې خندل او ویل به یې:
ترحم څه شی وي؟
د چنګیز د یرغل په وخت کې، د افغانستان په کومه سیمه کې د کوم نر بچي د هغه لمسی وواژه، چنګیز له ډیره قهره امر وکړ چې لومړی د نارینه وو سرونه ووهئ، بیا دښځوو له نسونو نه ماشومان د نیزو په وسیله را وباسئ، بیا ځاروي ووژنئ، بیا نا ړنګ شوي دیوالونه ړنګ کړئ او بیا څه چې ونې دي غوځې یې کړئ.
ټوپکیانو په کابل کې همدا پروسه اجرا کړه. وحدتي ټوپکیانو په خپل غنیمت کړای شوي قلمرو کې په خپلو اعمالو سره د چنګیز سر ګرولی او هغه یې حیران کړی دی. دوی د چنګیز له کارونو نه علاوه د خلکو په سرونو کې میخونه ټک وهل، د ښځو غولانځې یې پرې کړې، د انسان له غوښونه یې شوروا پخه کړه، د انسانانو د سرونو په پرې کولو سره یې د مرې ګډا اختراعَ کړه او په پای کې یې د خپل نیکه د روح د خوشحالولو په خاطر ونې هم پرې کړې.
په دهبورې کې یې زما د حویلي با ثمره او بې ثمره ونې یې زما په مخ کې و وهلې او وې یې وړې. زموږ یو ګاونډی چې د کابل پوهنتون د ادیتوریم مدیرو، یو څه مقاومت او استدلال ور سره کاوه، ټوپکی دي خیر یوسي چې په آرامه یې ور ته و ویل:
«ما قومندانم، اینجا امر ما مي چله بس!»
ما ګاونډی ځنډې ته کړ او ورته و مې ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

پښتون هم يې، د پغمان هم يي او استدلال هم کوي، که پوه شي چې د سياف کليوال يې، ځای پر ځای دي وژني.
د کورونو له ونو چې ور خلاص شول، د پوهنتون په باغونو او ونو يې پيل وکړ. يوه ورځ زه (ليکوال) له څو تنو استادانو سره د پوهنتون د رياست تر مخي په چمن کې ولاړ وو، د وحدتي ټوپکيانو څو تنه ايله جاريان تبرونه په لاس راروان وو، چې د پوهنتون د رياست تر مخي ولاړې ښکلي ناجوګاني چې ښايي عمر يې څلويښت يا پنځوسو کلو ته رسيده او په يو خاص نظم اينودل شوي وې؛ ځوانيمرګي کړې. له ولاړو استادانو څخه دوه تنه په بيړه د پوهنتون رئيس ته په شکايت ورغلل. په دې وخت کې د پوهنتون رئيس، د وحدتي ټوپکيانو له نظره د ډاډ وړ سړی و. دی پوهاند ډوکتورحسنيار و، دی وحدتي نه و، خو د هزاره وو له قوم څخه و، ځکه د دوی له پاره د ډاډ وړ و. حسنيار عالم سړی و، نه سياسي او د دې ستونزې په برخه کې يې له دوو درکونو مکلفيت درلود چې د ونو د پريکولو مخه ونيسي:
ــ يو د پوهنتون مسؤليت ورله غاړې و، يعني د پوهنتون رييس و،
ــ بل د ده د تحصيل رشته وني او ځنګلونه وو؛ خو وحدتي وحشيانو د هغه خبره هم و نه منله ور ته وې ويل:

**«برو بيادررئيس پوهنتون شه کي کشيده، مه خودم قومندان استم.»**

بيا نو پوه نه شوو چې هغه ځناور د ونو له وهلو چا منع کړل. ونې په ځای پاتې شوې، تر نن پورې ولاړې دي او د خپلو بچيانو د شهادت ويرکوي.
«موږ تورګل زاړه، سورګل يې په خره سپور راوړ.»، موږ د ونو وير کې ډوب وو، چې ونې د چاپيريال په ساتنه او ښکلاکې، د هوا په پاکولو کې، سړو او تودوخه کې ډير رول لري؛ خو خبر نه وو چې د ووسپنو وار هم راغی. چا ښه ويلي:
«موږ ساده دوی حرامزاده.»
موږ د ساده ګئ له مخي ويلي چې:
هلکه دا ونې چې وهي، څه دا خو سوځوي، په دې ووسپنو څه کوي؟
دا مو په ذهن کې نه تيريده چې هغه به په تول خرڅوي، د خپل وطن شاهرګ غوڅوي او په ترازو کې يې ږدي، دوی ته خپلو بهرنيو بادارانو ويلي وو، چې:

**«هغه څه چې د افغان او افغانستان په درد لګيږي، بايد ولاړ يا ژوندي او روغ پاتې نه شي.»**

ما ته يې دقيقه، ساعت او نيټه اوس نه ده په ياد، خو دومره مې ياديږي چې د ډاکتر نجيب د حکومت وخت و؛ په خپلو سترګو مې وليدل چې سهارمهال و، دوستمي ايله جاريانو د پغمان د طاق ظفر مرمر تيرې راشکولې وې او په دهبوري کې يې د حاجي عبدالله په سنګ فروشی کې خرڅولې. حاجي عبدالله سنګ تراش و پوښتل:
«دا موله کومه کړيدي؟»
يو تن چې شخ لنګوټی يې په سرو، تر پونديو جګې پايڅې او پس قاته بوټان يې په پښو وو، په وياړ او هسکه غاړه و ويل:
«او بيادر! اي سنګای طاق ظپر پغمانس،ميپامي ياني؟»
دا زموږ د ميدان ښار د نرخ د سيمي د دادل د کلي د نر او ښځو د خولو خبره ده چې، دغه دوستمي بې بند و باره خپلسري به په ميدان ښارکې ولا ړ وو، له نږدې او لرې کلو او باڼدونه به چې خلک کابل ته د چای، بورې، تيلو يا د تدفين و سايلوا خستلو پسې تلل، دوستميانو به لوټول. خلکو به د کورنی زلميان نه ليږل، د هغو د سر خطره وه، دا وظيفه د سپين ږيرو وه.
په وارو، وارو داسي هم شوي چې سپين ږيرو سره به يې چې پيسې پيدا نه کړې، نو په څاپيړو به يې وهل او ورته ويل به يې:
«چرا پيسه نداري؟»
د چور دغه لړۍ ټوپکيانو ته په ميراث پاتې شوه او دا ميراث يې ښه وپاله.
له ونونه وروسته چې د ووسپنو وار راغی، لومړی يې د برقي بسونو په لينونو (سيمانو) باندې پيل وکړ، دا ځکه چې هغه تر نورو حاضرو فلزاتو قيمتي وو. دا سيمان مسي وو او په لوړه بيه خرڅيدل.
کله به چې جګړه سره شوه يا به ودريده، دوی بيا د ونو او ووسپنو په پرې کولو پيل کاوه.
دا د اوريدلو او دويم لاس خبره نه، بلکې زما د سترګو ليدلی حال دی چې وحدتي ټوپکيان به د کابل پوهنتون او سيد جماالدين افغان دارالمعلمين تر منځ، د ميرويس ميدان او دهمزنګ په لوري غځيدلي عمومي واټ کې ناست وو، سوټک او سندان به ورسره وو، څو تنوبه د برقي بسونو سيمان را ښکته کول او څو تنو نورو به د نيم متر په اندازه غوڅول، لکه د خپل پلار مال يې چې وي، منظم به يې په بوجيو کې په ځای کول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

بله ورځ چي له کوره را و وتم، که ګورم چي زموږ د کوڅي د مخي د برق پايي او د برقي بسونو پايي نه شته. د پايو په ځرتونو کي د پوهنتون په لوري وخوځېدم، لږ وړاندې مي وليدل چي ښاغلى؟ ټوپکوال د افغانستان خدمت ته ملا تړلي ده؟
د مځکي په کيندلو يي هم ځان نه په عذاباوه، خپل بادار آسانه چل ور ښودلى و. لګيا و د برقي ولډنګ په وسيله يي پايه غوڅوله.
په دې باندې هم يوازې خدايتعالى او مزاري جان؟ پوهيدل چي دا پايي چيرته وړل کيدې؛ خو نن هماغه تنظيمونه، هماغه ټوپکيان د مقاومت؟ او جهاد؟ په نامه د واک پر ګدى ناست دي او وايي:
موږ په هيڅ خبر نه يو، موږ جهاد کړى، دغه څوکى او اختيارات زموږ د پلار او نيکه حق دى.
د ټولو د اميد سترګي دې ته وې چي حد اقل يوه ورځ د دزوغږ وانه وري؛ خو جګړه ورځ تر بلي توديده.
يوه ورځ چي پوهنځي ته د حاضرى د امضا کولو له پاره تللى وم، کابل بيا د راکټونو کوربه و. راکټونه د آسمايي پر ډېو لګيدل. آسمايي چغي وهلي چي:

**«وه بچيانوما څه کړي دي چي ما په راکټونو ولئ؟»**

خو دا چيغي به چا اوريدلي واى. په دې کي کوم استاد و ويل:
«به خيالم راکت ميا يه!»
د ادبياتو پوهنځي تدريسي مدير محمد اکبر عاقب چي ډير ټوکي سړى و، د طنز په ژبه يي ور ته و ويل:
«راکتِ چي کارچي، او بيادر، ده کانتينر چوب مشکنانه. والا شما استادام عجيب مردم استين، هيچ کس از دست تان خلاصي نه داره، پشت هر کس ګپ مي زنين.
اي مجاهدين بيچاره چي کدن که شما هر دقه ميګين که راکت ګلبدين آمد، راکت برهان الدين آمد، اى راکت شوراى نظار اس، اي راکت حزب وحدت اس، اي راکت سياف اس. اونه برين ببنين کدام نفر ده کانتينر چوب ميده ميکنه، ګرمبش ميايه.
اي مجاهدين بيچاره چي کدن، خو بر خدمت آمدن. اِنه بيبى کالاى مردمه مفت دګه جاى انتقال ميتن. ده اي وخت اي پيسه خودش يک غم اس، پيسه ره ميګيرن، ازغم آدمه خلاص ميکنه. طلاى زناره ميګيرن که کسي چور نه کنه او نه بيادر بس فاميدي دګه اګه دلشان خاست او نه خدمت يګان زن و دختر ام ميکنن، خاني شان آباد.
يګان درخت مرخت اګه ده روى اولي باشه، اورام مي زنن که شاخايشه شمال سر اوشتوکا نه پرته. ازي کده خدمت کلان ده کجاس، کي کده ميتانه بيادر اونه مردمه بي پاسپورت بي ويزه جوپه، جوپه خارج روان ميکنه، تو بګو دګه چي کنن.
اِينه بس بيادر موسيقي شه کي کشيده. ده اِقه وخت که موسيقي شونيدين چي کدين،آلي دګه انمي ګرمبس راکتاو توپ و طياره خوب ميفاره.
دګه اي بيچاره ګک ها چي کنن، اِنمقه از دست شان ميشه، اورام ګُلشه بر مردم ميکنن. نه خورده نه بورده، شما پشت شان ګپ ميزنين.
بر پدر چار پنج تا بانکه نالت که بوردن، چرا نه برن؛ خو امقه خدمت ميکنن. او مامورين سابق که کتي نيکتاياى خود ماش ميګرفتن چوتو بود. اي مردمام اق دارن که بانکه ببرن.
چشم خو داري شکر، اونه ببين دولت خو ده دست دګه تنظيم اس، ماشاي اي تنظيم دګه چوتو ميشه، مجبور اس که بانک ببره. اينمي منطقه اقش رسيده، غنيمتش اس بيادر، دلش که هر چي ميکنه، اقش اس، دلش بايسکلش.
شما استادا تمام روز از دل خود کپ کشيده ميرين، مه چم اي چيزاره ده کدام کتاب کتي ازي نيکتاياى تان ديدين و خاندين و ګفته ميرين. دګه پيش روى مه اي ګپاره نزنين که خبرتان کدم.»

**«هغه څوک چي د خپلي عقيدې او فکر د بيانولو حق و نه لري، بايد ژوندى موجود و نه ګڼل شي.»**

(مونتسکيو)

د پنځمي برخي پاى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ